
سپین ږیری

# هټی والا

(دوکان لرونکی)

---

کوچنی داستان



Ketabton.com

عبدالرشید "محمد نجاب"

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم** ط

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپین ږیرې هټۍ والا

# (دوکان لرونکی)

~~~~ کوچنی داستان ~~~~
~~~~

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرلیک:** سپین ږیری هتې والا (دوکان لرونکی) ~ کوچنی داستان ~

**لیکنه :** عبدالرشید"صمد نجاب" ● • • • • • . . . . .

**ترتیبوونکی:** ارسلان همت

**پښتی ډیزاین:** ارسلان همت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سپین رېږي هټۍ والا (دوکان لرونکي) کیسه:

ؤ نه ؤ د سړک پر غاړه په یوې سیمه کې یوه هټۍ وه ...

پدې هټۍ (دوکان) کې یو سپین رېږی هټۍ والا ؤ ؛

دې هټۍ والا سره ډېرې ښې خوږې خوندَورې د غوا د شیدو مستې به وې ...

د سیمې ټولو خلکو د مستې خرڅوونکي (هټۍ والا) څخه به یې په ډېرې مینې او لېوالتیا سره مستې اخیستلې ؛؛؛

مستې خـــرڅوونکي (هټۍ والا) او د سیمې خلکو ته دا راکـــړه ورکـــړه د ګټې، ګټې (Win, Win) په مانا وه ...

یانې خلکو به ښې خوندَورې مستې خوړلې، څښلې او مستې خرڅوونکي ته به ښه ګټه کېدله!

د دواړو خواوو تر مینځ دا یوازې د مستو (سپین ټکو) پېر او پلور نه وو ...

بلکې د ارزښتونو یوه راکړه ورکړه وه!

ناڅاپه.................................!

څو بد نیتي کسان را پیدا شول،

هغوی هوډ وکړ چې د مستې خرڅوونکي دا تود بازار د مستو ،سوړ او ور وران کړي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی هم راغلل د مستو خرخوونکي تر څنګ يې هټۍ جوړې کړې؛

په خپلو هټېو کې هغوی هم مستې خرخول يې پېل کړل ...

خو د نوي هټۍ والو (دوکان لرونکو) مستې نَرۍ، بې خونده او بې کېفېته وې..

د سيمې خلکو د مستې خرخوونکي او نوي هټۍ والو څخه چې مستې
اخيستل يې پېل کړل...!

د ښو او بدو تر مينځ توپير ورته ګران (سخت) شو ؛

ښه او بد دواړه سره ګډوَډ شول.....!

په پای کې د سيمو خلکو د مستو خرخوونکي او له نورو څخه يې مستې
اخيستل بند (بس) کړل.

يانې دواړو خواوو ته راکړه ورکړه باېلل، باېلل (Lose, Lose) شوه.

د سيمې خلک پر خپله لاره لاړل، سپين ږيری هټۍ والا او نور هټۍ وال په
خپله لاره!

. . .

**د کيسې له لوستونکو څخه ډېره زياته مننه!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کیسې مانا او مطلب:**

آیا پوهیږئ؟ تاسو پخپله خپلواک او آزاد یاست؛ د فکر خپلواکي او آزادي لرئ؛ د کیسې (داستان) مانا او مطلب هر ډَول چې غواړئ ځانته یې تعبیر او تفسیر کړئ!

**پای**

• • • • • . . . .

له سکندر جان څخه ډېره زیاته مننه! چې یوه نوې لاره یې راته را وښودله!

له ارسلان جان څخه هم ډېره مننه چې زما لیکنې ترتیبوي او خپروي!

له هر چا څخه ډېره زیاته مننه!

**بریالي اوسئ.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**